د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محكمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته

وبعد: په تاريخ ۱٤٤۳/۷/۲٦ هق د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله او د سترې محكمي د رئيس محترم شيخ صاحب او ورسره مل پلاوي په ګډون مجلس دائر شوی وو چي په هغه کي څلورمه موضوع داسې وه: ((د تعزيراتو هره فيصله د مشرتابه محترم مقام ته استول غواړي كه يواځي د قتل، دائمي حبس، حدود او قصاص فيصلې استول غواړي؟)) په اړه يې داسي فيصله شوي ده:

((يواځې د تعزيري قتل، دائمي حبس، حدود او قصاص موضوعاتو په باره کي نهايي شوي فيصلې دي د مشرتابه محترم مقام ته استول كيږي.))

د پورته ذکر شوي مجلس د څلورمې موضوع په اړه فيصله د دې متحدالمآل په استولو سره و ټولو تميزونو، دېوانونو مرافعه او ابتدائيه محكمو ته خبر وركول كيږي تر څو د هغه مطابق اصولي كړني ترسره شي.

په درنښت

۱۸/۸/۱۴۴۳

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د سترې محكمې

د دارالانشاء رئيس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء